تاج محمد تمکین ۲۰۱۲/۰۷/۳۰

# مونږ دتیارو نه د رڼا په لوري پل اخستی!!

افغانستان ډیر عمر په کړاو کې تیر کړی دی، افغانستان په تیرو وختونو کې ډیر کړیدلی دی زوریدلی دی او په چیغو ژړیدلی دی .افغانستان په تیارو کې ډیر تیندکونه خوړلي دي افغانان په ټوله نړۍ کې د ټولو نه زیات ځپیدلي دي .افغانان د تیاره ژوند نه ډیرې بدې خاطرې لري.

تیرو کلونو کې افغانستان ژړیدلی دی خو اوس لږ لږ په خندا راغلی، تیر عمر په تیارو کې افغانان سربداله شوي دي خو اوس ورته لږ لږ ارام محسوس شوی دی. په تیرو وختو کې افغانانو د مرګ په کلي کې ژوند کاوه خو اوس د ژوند دکلي سردرو ته داخل شوی دی، د خواږه ژوند په نغمو راغلی دی.

په تیاره وختونو کې افغانستان که په چاپسې په پټو سترګو اقتدا کړې ده نن یې هغه د وخت ظالم امام پیژندلی دی، که چا افغان بچي په یو نوم او بل نوم قتل کړي نن ټولو ته رسوا شوی بدنام شوی او د خپل نوم څخه ګمنام شوی دی. که چا ننګرهار په لوګو تور کړی دی او که قندهار یې د بارودو ښکار کړی دی دهغوی څیرې نن ټولو افغانانو ته رسوا شوي دی، که چا په مزار کې زرګونه خلک د کانتینري مرګ نه برخمن کړي دي او که د عینو کاریز کې یې سرونه په تیږو شیندلي دي نن ټولې نړۍ دهغوی منحوس مخ پیژندلی دی او هر څوک یې په بد نامه یادوي .که چا راکټ په لاس سروبی ژړولی دی او که د انساني سپیانو په لاس یې معصومې نجونه او بیګناه ښځې زورولي دي نن هغه په خپله زوریږي او په خپل تیر افسوس کوي.

دا یو عجیبه شان دی چې په مونږه له لوري دسبحان دی او زمونږه خدای په مونږه مهربان دی کومو خلکو چې زمونږه په نوم رشخن واهه په سپک نظر یې کتل نن هغه زمونږه په کابل کې دپیسو لپاره منډې راوهي ، کومو خلکو چې مونږ ته اور بلاوه هماغه اور دهغوی په کور بیرته ورتاو شوی دی او هغه یې سوځولی .کومو خلکو چې زمونږه د سر سوداګاني کولې نن د هغو خلکو د سر سوداګاني کیږي.زمونږه اغیارانو ، زمونږه د غلیم دلاس نیالګو چې کوم فصل زمونږه د خرابوالي لپاره کرولی وو نن یې هغوی پخپله ریبي او د ریبلو سره اوښکې هم تویوي.

زمونږه د بچو مستقبل چې چا وران کړی وو دهغوی بچي نن خپله په زیان شوي دي ، زمونږه دهیواد اردو چې چا ورانه کړې وه نن دهغوی خپله اردو دتجزیه کیدو په حالت کې ده په مصیبت کې ده او په لوی لعنت کې ده.

سره له دې چې تیرو یوولس کلونو کې مونږه د تیارو نه درڼآ په لوري روان یو ، مل سره د ترقۍ دکاروان یو خو بیا هم کله کله په فکري شاړه بیابان یو او ځیني خلک په مونږ کې اوس هم شته چې لا تر اوسه یې ماغزه ځای ته نه دي راغلي او ذهني وایروس لري.

دغه ذهني وایروس په هغوی کې دومره خپور شوی چې نن هم زمونږه په کلي کې د ملا او معلم تر منځ واټن شتون لري ، د مدرسې او مکتب تر منځ ګواښونه کیږي، مدرسه مکتب وژني او مکتب په مدرسه پسې تبلیغ کوي او دقتل دسیسې یې جوړوي. ملا د معلم سره نه دی جوړ او معلم د ملا سره ناسته نه خوښوي. ددوی دا کینه تر دې حده ډیره شویده چې اوس په تنکیو ماشومانو هم صرفه نه کوي او ورته په اوبو کې مسمومونکي شیان ګډوي. بس دی نور بس دی نور هغه وخت نه دی چې په تیارو کې ژوند تیر کړو، نور باید په خپله خاوره کې هر لور ته دخوشالۍ مشعلونه روښانه کړو، رڼآګانې خپرې کړو د خوشالۍ دا کاروان روان وساتو، خپلو بچو ته د زده کړې حق ورکړو ورته زمینه جوړه کړو او تر ټولو مهمه هیواد ته په سوله راوستو کې خپل فعاله رول ولوبوو ځکه چې سبا چې دی زمونږه دی.

نن په هر میدان کې مونږه اتلان لرو ، ویښ زلمیان لرو او د ملت خدمتګاران لرو، د یو خوانه حمید حسن په روڼ میدان کې په خپل توپ سره غلیم ته شکست ورکوي او د خنداګانو رڼا ګاني خپروی له بلې خوانه نوروزخان زمونږه کپتان د بیټ په زور د رڼآ مشعل د میدا ن څلورو خواو ته څرخوي او د تیارو مقابله کوي ، نن کریم خپل وطن ټولې نړۍ ته صادق ښودلی دی او د نبي له لښکر سره یو ځای شوی دی، اجمل فیضي د اولمپیک په رڼاګانو کې دتیارو لاسونه د رڼآ په زور په شا تمبوي او د خپل افغانیت زور ټولې نړۍ ته دسولې په فضا کې ښیي، روح الله نیکپا په خبل کرداري رڼا سره وطن روښانه کوي، زمونږه اتلان د المپیک مشعل په لاس ټولې نړۍ ته نن دا پیغام ورکوي چې ګورۍ مونږ دتیارو نه د رڼا لوري پل اخیستي ، مونږه د تیارو نه د ظلم بدل اخستی او مشعل په لاس نړۍ ته دسولې او امن پیغام ورکوو.نن په هند کې زمونږه محصلین ټوله نړۍ ستایي او دهند تر ټولو لوی ایوارډ افغان محصل ته ورکول کیږي.نن تهمینه کوهستاني د خپلو افغان ورونو سره مل د سولې د تیارو نه درڼاپه لور کاروان کې تر ټولو مخکې ډاډه او د خپل وطن د نامه دسیوري لاندې ځي .زمونږه ځوانان د المپیک مشعل په لاس رپیدلی افغان بیرغ په ازاده فضا کې رپوي او ټولې نړۍ ته درنګین بیرغ رپیدل ښيي او نړۍ ته دا پیغام ورکوي چې :

د نړۍ خلکو واورۍ!


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

مونږه واړه افغانان یو، سوله ساتي شازلمیان یو
د افغان پلرو بچیان یو، مونږ دلوبو اتلان یو
اتلان د هر میدان یو، مونږ شجاع لکه زمریان یو
مونږه نه تروریستان یو او نه ستاسو دښمنان یو
مونږ د خپل وطن ګلان یو، د وطن خپل باغبانان یو
مونږه سوله امن غواړو، مونږ دسولې په ارمان یو
د وطن خپل پتنګان یو، مونږ په خپل وطن قربان یو.
مونږه واړه افغانان یو، سوله ساتي شازلمیان یو

نن زمونږه کلي هم په رڼا کې خوشاله دي او دسکون ساه اخلي چې ورته پاخه سرکونه تیریږي، نن زمونږه په کلو کې ماشومان هم خندیږي چې ورتا فکري رڼا راوړونکي ښوونځي جوړیږي . نن زمونږه ځوانان هم د رڼآ په سفر کې زمونږه سره دي او په ولس کې دفکري اوښتون راوستلو لپاره کار کوي ، نن زمونږه ښارونه هم خوښ دي چې پکې په ارام زړه سړی سودا کولی شي، نن ډیری سیمو کې خلک د بریښنایي رڼا څخه برخمن دي او دا د رڼا کاروان جاري ساتي، نن زمونږه دمسجدونو نه په ازاده فضا کې د ازان دالله اکبر اواز خپریږي او خلک په سوله ایزه فضا کې لمانځه ته ځي. نن په افغانستان کې هغې خولې چې به توپک یې خبرې کولې اوس په قلم خبرې کوي.په دې سیمه کې چې به چا اواز نه شو اوجتوای نن دغه سیمه کې هر څوک په ازاده توګه خپل غږ پورته کوای شي.
مونږه اوس د تیارو نه درڼآ په لوري پل اخستی خو لا منزل لرې دی، په منزل ته رسیدوکې ستونزې شته خو دا کاروان باید په جریان واوسي، روان واوسي او همداسې په مخ لاړ شي تر څو خپل راتلونکي د نړئ به اسمان کې تضمین کړو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ